**بسم الله الرحمن الرحیم**

## دنیا د اخرت لاره ده!

**(ژباړه)**

د صحیح البخاري په شرحه فتح الباري کې په «کن فی الدنیا کأنّک غریب أَو عابر سبیل» باب کې په لړ بدلون سره، له عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت شوی چې ویلي یې دي:

**«أخذ رسول الله صلی الله علیه وسلم بمنکبی فقال؛ "کن فی الدنیا کأنک غریب أو عابر سبیل"وکان ابن عمریقول: إذا أمسیت فلا تنتظرالصباح و إذاإصبحت فلا تنتظر المساء وخذ من صحتک لمرضک ومن حیاتک لموتک»**

**ژباړه:** *رسول الله صلی الله علیه وسلم زما اوږه ونیوله او ویې فرمایل؛ په دنیا کې داسې ژوند وکړه، لکه لاروی او یا مسافر. ابن عمر رضی الله عنه وفرمایل: کله چې ماښام شو، د سهار په تمه مه کېږه او کله چې سهار شو، د ماښام په تمه مه کېږه. پخپله روغتیا کې یو څه د ناروغۍ د ورځو او په ژوند کې یو څه د مرګ لپاره په یاد لره!*

دغه حدیث د ګټې او ارزښت له پلوه خورا لوی حدیث ګڼل کېږي او لوی نصیحتونه او پندونه پکې بیان شوي دي. همدارنګه دا حدیث یو مومن هغه حقیقي ځای ته هڅوي او بیایي چې ژوند کول ورته غوره دي؛ نه دا چې پر دنیا تکیه وکړي، هغه خپل وطن او استوګنځای وګڼي او هلته د ارمتیا احساس وکړي؛ بلکې باید د مرګ او قیامت لپار چمتو وي. په دې ورځ شتمني او اولاد د یو انسان لپاره هېڅ ګټه نه لري، خو دا چې په سلیم زړه د الله سبحانه وتعالی لوري ته ورشي.

اې مسلمانانو! دنیا د اخرت لپاره لاره ده. مسلمان په دنیا کې داسې ژوند کوي، لکه مسافر یا لاروی او زړه یې په دنیا پسې نه وي تړلی. نوموړی پوهېږي که په دنیا کې یې سفر هر څومره اوږد وي، خو بیا هم له دې لارې تېرېږي او «دارالقرار» ته ځي. له شک پرته چې اخرت دارالقرار دی.

پر همدغه اساس لکه څنګه چې ابن عمر رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې وینا خبر شو، پر اوسنیو مسلمانانو هم لازمه ده، چې هغه څه درک کړي کوم چې هغه درک کړي و. همدارنګه د اسلام د مبین دین د عزت او پیاوړتیا لپاره کار کول، د دې خبرتیا په سر کې ځای لري. په ځانګړي ډول وروسته له دې چې اسلام له لسیزو راهیسې د انسانانو له عملي ژوند څخه لرې شوی او مسلمانان باید په چټکۍ او بشپړ جدیت سره د هغه دولت د بیا تاسیس لپاره هڅې وکړي، چې یو ځل بیا پر خلکو بشپړ اسلام پلی کړي.

اې ربه! د نبوت پر منهج راشده خلافت ژر راپه برخه کړه، چې په واسطه یې د مسلمانانو اندېښنې او هغه ستونزې له منځه یوسو، چې د دغه امت لمن یې نیولې ده! اې ربه! ځمکه په خپل کریم نور سره روښانه کړه! الهم آمین!

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**